
## د افغانستان د اقلیمي ګواښونو وړاندوینه- د اقلیمي وړاندوینو د مرکز له خوا
## د امریکا متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا ادارې (USAID) د قحطۍ د واردمخه خبردارۍ سیستمونو د شبکې (FEWS NET) لپاره
## د ۱۴۰۰ کال د چنګاښ میاشتې له ۳۱مې څخه تر اسد میاشتې ۶مې نېټې پورې




**<u>د تودوخې درجه:</u>**

د تیرې اونۍ په اوږدو کې، په ټول افغانستان کې د تودوخې درجه منځنۍ کچې ته نږدې وه. هر راز توپیرونه د سانتیګراد د ۴ درجې په منځنۍ کچه کې وو. په ټیټو پرتو سیمو کې د تودوخې اعظمي درجه د سانتیګراد له ۳۵ درجو توده وه. د افغانستان په سویل لویدیځ کې د اونۍ اعظمي تودوخه د سانتیګراد له ۴۰ درجو لوړه ثبت شوه.

د لید مودې په اوږدو کې، تمه کیږي چې د افغانستان په سهیلي او شمالي سیمو کې به د تودوخې درجه د سانتیګراد له ۴ درجو لوړه وي، پداسې حال کې چې تمه کیږي په شمال ختیځ او مرکزي لوړو پرتو سیمو کې به د تودوخې درجه له عادي حد څخه ټیټه وي. د سویل لویدځ په تودو سیمو کې به د تودوخې اعظمي درجه یوځل بیا د سانتیګراد له ۴۰ درجو لوړه شي.


**<u>وربښت:</u>**

د تیرو ۷ ورځو په اوږدو کې، د افغانستان په ختیځ پوله کې له ۲۵ میلي مترو څخه ټیټ وربښت ولیدل شول. وضعیت د جون میاشتې له پیل راهیسې په شمال ختیځ افغانستان کې د عادي حالت په پرتله یو څه تود شوی او توپیرونه له ۱۰ تر ۲۵ میلي مترو وو. د لید مودې لپاره، شمال ته غزیدلۍ د هند مونسون باید شمال ختیځ افغانستان ته سپک وربښتونه راوړي. د اونۍ مجموعي وربښت بنایي ۱۰ تر ۲۵ میلي متره وي. تمه کیږي چې د هیواد پاتې برخه وچه پاتې شي.

FEWS NET
FAMINE EARLY WARNING SYSTEMS NETWORK
NOAA
USAID
FROM THE AMERICAN PEOPLE

## د منځنۍ آسیا د اقلیمي ګواښونو وړاندوینه- د اقلیمي وړاندوینو د مرکز له خوا
## د ۱۴۰۰ کال د چنګاښ میاشتې له ۳۱مې څخه تر اسد میاشتې ۶مې نېټې پورې

**د تودوخې درجه:**




د جولای میاشتې په نیمایي کې، له اوږدې مودې څخه له عادي حد څخه د تودوخې د لوړې درجې وروسته، د تودوخې منځنۍ کچه په ټول مرکزي او شمالي قزاقستان کې له عادي حد څخه ټیټه وه، چیرې چې د سړې هوا توپیرونه د سانتیګراد له -۲ تر -۵ درجې وو. په ورته وخت کې، د منځنۍ آسیا په پاتې سیمو کې د تودوخې منځنۍ کچه عادي حد ته نږدې وه .
د راتلونکې اونۍ لپاره، د مودل وړاندوینې په ګوته کوي چې د تودوخې له منځنۍ کچې سره به له عادي حد څخه د تودې هوا وضعیت چې تمه کیږي منځنۍ کچه به یې د سانتیګراد له ۲ تر ۶ درجې وي، د ترکمنستان، ازبکستان او سویلي قزاقستان برخو ته بیرته راستنه شي.

**ورښت:**

د راپورونو له مخې، د تیرې اونۍ په اوږدو کې د درنو ورښتونو له امله سیلابونه راوتلی، چې د مرګ ژوبلې لامل شوی او ګڼ شمیر خلک د مرکزي آسیا په بیلابیلو سیمو کې، د ایران د ډیرو ولایتونو په ګډون ، لویدیځ او شمالي هند کې اغیزمن شوي دي. د راپورونو پربنسټ، د ډیرو ورښتونو په پایله کې د جولای په ۱۲مه د سیلابونو او ځمکې ښویدلو له امله د قرغیزستان او ازبکستان په ځینو برخو کې ګڼ شمیر خلک وژل شوي دي. که څه هم، د قزاقستان په شمالي او سویلي برخو کې د لندبل لوی کمښت او د biomass ضعیف حالت دوام لري چیرې چې د غیر عادي وچوالي تمه کیږي.
د راتلونکې اونۍ لپاره وړاندوینه کیږي په محدوده کچه ورښت، لږ تر سپک، به په شمالي قزاقستان، ختیځ قرغیزستان، ختیځ تاجیکستان، شمال ختیځ افغانستان او شمالي پاکستان کې ترسره شي، پداسې حال کې چې په نورو سیمو کې د موقوف ورښت تمه کیږي. وړاندوینه کیږي چې له عادي حد ته نږدې څخه تر عادي حد ټیټ ورښت ښایي د سیمې په وچو برخو کې وچوالی وساتي.

**یادونه: د خطرونو د وړاندوینې دغه نقشه د موجودو جوي/ اقلیمي معلوماتو او د هوا د حالاتو د لنډ مهالې تر منځ مهالې (تر یوې اونۍ) وړاندوینې پر بنسټ ولاړه ده او د کرنیزو حاصلاتو پر وضعیت او څرځایونو باندې د هغو بالقوه اغېزې څېړي. هغه سیمې چې پکښې غیر نورمال شرایط لیدل شوي دي شاوخوا یې کرښې چاپېره شوې ده. د لویې وچې په کچه دغه مقیاس کې د دغو کرښو پولې یواځې په تقریبي ډول وړاندې شوې دي. دغه محصول موسمي اوږدمهالې اقلیمي وړاندوینې نه کوي او دم ګړۍ یا راتلونکې کې د خواړو خوندیتوب ته هم کومه اشاره نه کوي.**

د قحطۍ د واردمخه خبرداري سیستمونو شبکه (FEWS NET) د امریکا د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا ادارې (USAID) له خوا تمویل شوې یوه پروژه ده چې د خواړو د خوندیتوب د وضعیت په اړه د عیني معلوماتو د برابرولو په ډګر کې فعالیت کوي. د دغې شبکې لیدلوري لزوماً د USAID اویا هم د امریکا متحدو ایالتونو د حکومت د لیدلورو منعکسوونکې ندي. د هوا د حالاتو وړاندوینې چې د دغې شبکې له خوا وړاندې کیږي د FEWS NETG د سیمه ییزو دفترونو او مرکزي دفتر، ، NOAA-CPC، USGS، USDA، NASA او د اړوندو هېوادونو د یو شمېر نورو ملي او سیمه ییزو ارګانونو د ګډ کار محصول دی. مهرباني وکړئ د دغه محصول په اړه خپلې پوښتنې او نظرونه دغې برېښنا پتې Wassila.Thiaw@noaa.gov ته واستوئ او یا هم له 3424 -683 -301 -1 شمېره ټلیفون سره په اړیکه شئ. همدارنګه کولای شئ د USAID FEWSNET د کړنو په تړاو خپلې پوښتنې د USAID د پروګرامونو د مدیر ښاغلي ګیري ایلیرتز د ټلیفون شمېرې 1-202-254-0204 یا د نومړې برېښنا پتې geilerts@usaid.gov باندې راواستوئ.